حید راز ۲۰۱۰/۲/۲۳

# دافغا نستان د بهر نیوچارو وزارت او سفار تو نه دنظار د اوباشي ډلې په ولکه کې

ګران هیوادوال په دې خبره با ندې ښه پو هیږي چې د کو مې ور ځې نه چې عبد الله عبد الله د افغا نستان په بهر نیو چارو کې وزیر شو نو له هما غه ورځې نه دغه وزارت د نظار دبد نامې او اوبا شې ډلې لاس ته ورغی٠ عبد الله دلو مړۍ ورځې نه دخپلې نظار شورا د بد نامې ډلې د بیسواده غړو په ټا کلو او تقرر با ندې پیل وکړ٠ عبد الله ته دا خبره مطرح نه وه چې هغه څوک چې زه په دیپلو ما تیکو دندو ټا کم ایا ددې وړتیا لري چې په دغو پو ستو نو کې کار وکړي او که نه؟ خبره روښا نه او واضح ده چې ده ته دغه څیزو نه مطرح نه وو٠ ده دغه وزارت تر ځو یې له لا سه کیدل دبیسیوادانو ، پنچر مینا نو، ډریورانو ،کو پې کشانو او کلینر انو نه ډک کړ، دا ځکه چې دوی دده دسیمې او سمت خلک وو٠ په والله زما ښه په یاد دي چې په بمبئې کې یې یو قو نسل ټا کلی و چې هغه پخوا په دهلي کې دافغا نستان په سفارت کې چاپدار باشي و او دسفارت غړو ته به یې چا یو نه دمول او مطلق یو بیسواده سړی و، خو ددې له پاره چې دپنجشیر و ده ته دغه دنده ور کړل شوې وه٠٠ عبد الله نه یوازې په سفا رتو نو کې داسې کسان دسفیر انو، قو نسلانو او دسفارت دسکر ترانو په تو ګه وګو مارل چې نه ددیپلو ماسۍ نه خبر وو او نه هم په کو مې خارجې ژبې پو هیدل ، بلکې داسې بد اخلا قه ،متعصب، په فحشاوو ککړ، رشو تخوره او اختلا سګر خلک وو چې نه ورته افغا نستان مطرح وو نه افغا ن او افغا نیت، بلکې دوړو شر مښا نو په څیر د خپلو جیبو نو ډکو لو په فکر کې وو اواوس هم دغه نا ولې پر وسه ادامه لري٠

زما په اند څوک چې د هیواد نه بهر دپلو ما تیکې دندې تر لا سه کوي لو مړی با ید په دغه بر خه کې لوړ ې زده کړې ولري نه دا چې هر خر او غوایي د بازار دسره راولې اوپه دیپلو ماتیکو دندو یې وګو ماري نو هغه به په څه ډول په بل هیواد کې د خپل هېواد او دولت استازیتوب وکړای شي٠ له بده مر غه دبهر نیو چارو په وزارت کې ۸۰ په سلو کې دیپلو ما تیکې دندې همدغسې خلکو ته ور کړل شوي دي چې دیوه سمت او یوې ژبې پورې اړه لري ، نه دپو هې او لیا قت پر بنسټ٠ لنډه داچې دعبد الله دوره په دغه وزارت کې یوه ډېره نا وړې دوره وه چې هر څه دپنجشیر یا نو په لاس کې وو او ټول پوه کسان چې ښې دیپلو ما تیکې زده کې او کاري تجر به یې هم در لوده ددې لپاره چې پنجشیر یان او دنظار او دجمعیت د لو ټپلو غړي نه وو د هر څه نه بې بر خې او محروم ول٠ د بهر نیو چارو په وزرت کې دعبد الله تر ورکیدو ورو سته یو بل متعصب وزیر چې وروسته دپا رلمان د غړو له خوا د سلب اعتماد شو دغه څو کۍ ونیو له چې نو موړي هم تر عبد الله بد تر کا رونه وکړل٠ ده هم په ډېرې بیشر مۍ سره خپل دسمت خلکو ته دیپلو ما تیکې څو کۍ ور کړي او دعبد الله په څېر یې په دغه وزارت کې د پښتنو په وړاندې کر که او نفرت را وپاراوه٠ دغه سړی داد فر رنګین سپنتا وچې داخلاقي کمز ورتیاووسره سره یې په دغه وزارت کې د نورو ملیتو نو پر حقو قو پښې کیښودلې٠ ده چې ځانته متر قي او کمو نست او شعله یې هم وایه په عمل کې یې دا ثا بته کړه چې د عبد الله په څیر یو متعصب او پښتون دښمنه انسان و٠

که چیرې په بهر کې ددبهر نیو چارو وزارت سفا رتو نو دندو ته وګورو نو دنړۍ په ټو لو هیوادونو کې دخپلو اتبا عو دحقو قو دسا تنې له پاره یې هیڅ هم نه دي کړي، بلکې دهر پا سپورټ، وکالت خط او نورو په جوړولو کې یې د خلکو نه رشو تو نه اخیستي دي٠ دا فغا نی محصلینو مددمعا شو نه یې په جیبو نو کې اچولي دي او په زرهاوو نور غیر قا نو ني کا رونه یې سر ته رسو لي دي٠ همداراز ددغو سفا رتو نو یو شمیر بد اخلا قه او متعصبه تش په نا مه بیسواده دیپلوما تا نو د خپلو مر اجعینو سره ډېره ناوړه سلوک کړې دی چې ښه بېلګه یې په لندن کې دافغا نستان په سفارت کې دیوه تن افغان احمد زي سره ددغه سفارت د یوه بد اخلا قه او متعصب دیپلو مات ناوړه چلند دی.

داحمدزي ګناه داوه چې په خپلې مو رنۍ ژبې پښتو یې خبرې کولې چې دافغا ني سفارت دغه لچک او بد اخلا قه دیپلو مات یې هم ژبې ته ښکنځلې کړي دي هم یې نو موړي ډبولی دی چې بیا ورو سته ده دبر تا نیې پو لیسو ته شکا یت کړی دی چې دبر تا نیې پو لیسو هم دغه مو ضوع تر څیړنې او تحقیق لاندې نیولې ده٠

موږ په داسې حال کې چې په لندن کې دافغا نې سفارت ددغه لچک او بد اخلا قه دیپلو مات دغه و حشیا نه عمل غندو دافغانستان د بهر نیو چارو د وزیر نه په کلکه هیله کوو چې دغه مسا لې ته خپله ځا نګړې پا ملر نه واړوي او دغه بد اخلا قه دیپلو مات بر طرف او له کاره ګو ښه او کا بل ته را وغواړي او ځا رنوالۍ ته یې ور وپیژ نې تر څو


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املایی و انشایی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.

په را تلو نکي کې دا ډول لچک عنا صر ددې جر ئت ونکړي چې دخپلو افغا ني اتبا عو سر ه داسې نا وړه چال چلند وکړيی.

زما په اند دبهر نيو چارو نوی وزير که په رښتيا سره هم غواړي چې دغه وزارت دنظار دلو چکې ډلې د ما فيا نه وژغوري نو با يد جر ئت وکړي ونه ډار شي او په دغه وزارت کې يوه سمه تصفيه را مينځ ته کړي ځو دغه وزارت او ديپلو ما تيکې ځا نګې يې در زيلو و او باشوا و بيسواده تش په نا مه ديپلو ما تانو د وجود نه پاکې او تصفيه شي او که داسي ونکړي نو دی به هم دعبد الله او سپنتا په څير خپل ملت ته مسئول او تور مخی وي٠ په پای کې با يد ووايم چې په دغه وزارت کې يو شمير لايق او په کار پوه ديپلو ماتان هم شته خو دلته زما مقصد دهغو تش په نا مه ديپلو ما تانو نه دي چې عبد الله او سپنتا دقومي، ژبنيو او سمتي ملحو ظا تو پر بنسټ پر دغه وزارت تپلي او مقرر کړي دي او هيڅ ډول ديپلو ما تيکې زده کړې او سواد نلري او نه هم په بهر نيو ژبو پو هيږي٠

yarwan2002@yahoo.com.au


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de